# پښتو (لازمي)

## د اول جماعت د پاره




خیبر پښتونخوا ټیکسټ بُک بورډ پېښور

Free from Government
NOT FOR SALE

# پښتو (لازمي)

## د اول جماعت د پاره




خیبر پښتونخوا ټیکسټ بک بورډ پېښور

NOT FOR SALE

ټول حقونه د لېډ نګ بکس پبلشرز پېښور په حق کښې محفوظ دي

دا کتاب د نظامت نصاب او تعلیم اساتذه، خیبرپښتونخوا ، ابېټ اباد له خوا د پښتو د لازمي نصاب د اول نه تر دولسم جماعته 2013 تر مخه د خیبر پښتونخوا ټیکسټ بک بورډ د ټولې صوبې دپاره تیار کړو

مراسله نمبر 6171-73/NOC/SS-V تاریخ 14-12-2016

لیکونکي: • پروفېسر اباسین یوسفزے
• فیض الوهاب فیض
• فرهاد محمد غالب ترین
• نورالرحمان سحر

نظرثاني:

سلطان عزیزخټک، پرنسپل رائیټ (مردانه) کوهاټ
احمدرشید، پرنسپل، ګورنمنټ هائي سکول رړ، چارسده
عثمان اولسیار، ایس پي ایس ټي، ګورنمنټ پرائمري سکول ودودیه سوات
نګهت سیماکاکاخیل، SIPE ګورنمنټ ګرلزهائیرسېکنډري سکول، کالوخان، صوابی

نګران نظرثاني: ګوهرعلي خان، ډائرېکټر نصاب اوتعلیم اساتذه، خیبرپښتونخوا، ابېټ آباد

ایډیټر رضوان الله اسد، ماهر مضمون (پښتو) خیبر پښتونخوا ټېکسټ بُک بورډ پېښور

د طباعت نګراني اورهنما ئي: رشید خان پائینده خېل (چېئرمین)
سعیدالرحمان، ممبر (اي اینډ پي)
خیبر پښتونخوا ټېکسټ بُک بورډ پېښور

تعلیمي کال 2021-22
وېب سائیټ www.kptbb.gov.pk
اي مېل membertbb@yahoo.com
فون 091-9217159-60

NOT FOR SALE

بسم الله الرحمٰن الرحیم○

شروع کوم د الله په نوم چې بخښونکے او مهربان دے

## لړلیک (فهرست)


| نمبر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| 1 | حمد (نظم) | 1 |
| 2 | نعت (نظم) | 5 |
| 3 | زمونږ پیغمبر حضرت محمد رسول الله خاتم النبیین صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم | 9 |
| 4 | ښهٔ صفتونه او ښهٔ عادتونه | 13 |
| 5 | مور (نظم) | 17 |
| 6 | درې مهیان (قیصه) | 21 |
| 7 | صفائي | 26 |
| 8 | د خبرو اترو اداب | 31 |
| 9 | کار او کار کوونکي (نظم) | 33 |
| 10 | باز او چرګ (قیصه) | 37 |
| 11 | عبدالرحمان بابا رحمته الله علیه | 41 |


perfect24u.com

NOT FOR SALE

| | | |
|---|---|---|
| 12 | موبائل فون (نظم) | 45 |
| 13 | دوه لونه يوه کجوره (قيصې) | 48 |
| 14 | حجره | 52 |
| 15 | کمپيوټر | 55 |
| 16 | وړوکے اختر (نظم) | 58 |
| 17 | راځئ چې وخاندو | 61 |
| 18 | رښتونې قيصې | 63 |
| 19 | د انعامونو وېش | 65 |
| 20 | اړونه (نظم) | 69 |
| 21 | هنرونه | 71 |
| 22 | ښکاري او لومبړه (قيصې) | 75 |
| 23 | دعا (نظم) | 79 |


perfect24u.com

NOT FOR SALE

# حمد

## د زده کړې شیبې

د دې حمد سره به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د ساده نظم په اورېدو د هغې نه خوند واخستے شي
- توري د صحیح غږونو سره ولوستے شي
- توري یو ځاے کول او بېلول په صحیح ډول زده کړي

## خاص لفظونه

ښکته، زمکه، اسمان، جهان، ساه لرونکي، قدرت، رنګونه، موسمونه، سپوږمۍ، ستوري

perfect24u.com

ښکته زمکه پاس اسمان دے
غوړېدلے تول جهان دے

ساه لرونکي که بې ساه دي
ستا په حکم راپیدا دي

انسانان همه رنګونه
څلور شکلي موسمونه



NOT FOR SALE

نمر، سپوږمۍ ستوري روښان دي

ځناور دي که مارغان دي

شاړې غرونه مېدانونه

ځنګلونه او سیندونه

واړه تا دي پیدا کړي

بیا دې موږ له راکړي

perfect24u.com

نعمتونه دې بې شمېر دي

ټول زمانه کله هېر دي

خدایه هر ځای کښې عیان ئې

د هر چا روزي رسان ئې

(پروفیسر اباسین یوسفزے)

NOT FOR SALE

# مشغولتیا

1. په لاندینو خالي ځایونو کښې درست جواب ولیکئ:

۱ حمد کښې د ☐ صفت بیانیږي.

الف انسانانو ب حضرت محمد رسول الله خاتم النبیین صلی الله علیه وآله وسلم ج فرشتو د الله تعالیٰ

۲ د همه معنیٰ ☐ ده.

الف لږ ب ټول ج کم د ډېر

۳ زمکه ☐ ده.

الف ښکته ب بره ج هواکښې د اوبو کښې

2. لاندیني حرفونه یو ځای کړئ او لفظونه ترې جوړ کړئ!

۱ ا+س+م+ا+ن = اسمان

۲ ټ+و+ل = ☐

۳ ر+ن+ګ+و+ن+ه = ☐

۴ ښ+ک+ل+ي = ☐

۵ ق+د+ر+ت = ☐



NOT FOR SALE

3 لاندیني لفظونه بیل بیل ولیکئ

۱ زمکه ز + م + ک + ه

۲ ځناور ____+____+____+____+____

۳ موسمونه ____+____+____+____+____+____+____

۴ جهان ____+____+____+____

4 یو شان اواز لرونکي ټکي ولیکئ

۱ اسمان جهان

۲ رنګونه ______

۳ روښان ______

۴ بې شمېر ______

یادګیرنه: ماشومان دې دا حمد په یادو یاد کړي او په خوږ اواز دې ملګریو سره په شریکه ووایي.

د استاد/استاذې لارښودنه

په ماشومانو دې د پښتو د حروف تهجي ښهٔ مشق وکړي

perfect24u.com

NOT FOR SALE



# مشغولتیا

## 1. د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره توره کړئ:

۱ قرانٔ په چا نازل شوے دے؟

الف حضرت موسیٰ علیه السلام

ب حضرت محمد رسول الله خاتم النبیین صلی الله علیه وعلیٰ آله واصحابه وسلم

ج حضرت عیسیٰ علیه السلام

د حضرت ابراهیم علیه السلام

۲ د رحمت اللعالمین څۀ معنیٰ ده؟

الف د ټولو انسانانو د پاره رحمت،

ب کافرانو د پاره رحمت

ج د مسلمانانو د پاره رحمت،

د دعالمانو د پاره رحمت

perfect24u.com

۳ د چا ژوند مونږ د پاره غوره نمونه ده؟

الف حضرت محمد رسول الله خاتم النبیین صلی الله علیه وعلیٰ آله واصحابه وسلم

ب حضرت أدم علیه السلام

ج حضرت ابراهیم علیه السلام

د حضرت عیسیٰ علیه السلام

## 2. ورکړے شوي لفظونه په خالي ځایونو کښې ولیکئ.

لاره اعلی رسول اخرین

۱ په نبیانو کښې ــــــــ ئي


۲ اولین ئي ــــــــ ئي



NOT FOR SALE

# نعت

د زده کړې نتيجې



د دې نعت د وئيلو نه پس به ماشومان:

- د ساده نظم په اورېدو د هغې نه خوند واخستے شي
- د پښتو توري په صحيح ډول د ادا کولو جوګه شي
- توري د صحيح غږونو سره ولوستے شي
- إعراب او حرکات وپېژني
- د پښتو توري د "الف" نه تر "ے" پورې وليکلے شي

خاص لفظونه

اعلیٰ، رسول الله ، نازل، هدايت، لارښودنه، رهنما، رحمت اللعالمين، نمونه، نازولے، مولا

perfect24u.com

په نبيانو کښې اعلیٰ ئې    محمد رسول الله ئې
خدائے نازل په تا قرآن کړهٔ    هدايت ئې د انسان کړهٔ
لوے لارښود ئې رهنما ئې    محمد رسول الله ئې
اولين ئې اخرين ئې    رحمت اللعالمين ئې
ټول جهان له رڼا ئې    محمد رسول الله ئې
ستا ښودلې لاره ښه ده    ستا ژوند غوره نمونه ده
نازولے د مولا ئې    محمد رسول الله ئې

(پروفېسر ډاکټر شبرزمان سيمابؔ)



NOT FOR SALE

۳ محمد ﷺ ---------- الله ئي



3. د لاندېنو حرفونو نه لفظونه جوړ کړئ:

۱ م + ح + م + د = محمد ﷺ

۲ ق + ر + آ + ن =

۳ ا + و + ل + ی + ن =

۴ ن + م + و + ن + ه =

4. یو شان اوازونه لرونکي لفظونه ولیکئ:

لکه

۱ قرآن — انسان

۲ رهمنا

۳ اولین

۴ نمونه

perfect24u.com

5. په لفظونو د درست تلفظ د پاره زور َ ، زیر ِ ، پېښ ُ ، غوړندے ٗ اوداسې نورې نخښې لګولو ته اِعراب وائي.

په لاندېنو لفظونو اعراب ولګوئ:

محمد خاتم النبیّین ﷺ — اولین — رحمت اللعالمین — نازولے



NOT FOR SALE


6. لسو پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې ولیکئ:

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | یو | ۲ | دوه | ۳ | درې | ۴ | څلور | 5 | پینځهٔ |
| | | | | | | | | | |
| ۶ | شپږ | ۷ | اووهٔ | ۸ | اتهٔ | ۹ | نههٔ | ۱۰ | لس |
| | | | | | | | | | |

**یادګېرنه:** ماشومان دې دا نعت په یادو یاد کړي او په خوږ اواز دې ملګریو سره په شریکه ووائي-

**د استاذ استاذې لارښودنه**

په ماشومانو دې په مختلفو لفظونو د اعرابو لګولو ښهٔ مشق وکړي-
د پښتو شمېره دې پرې تر لسو په هندسو او لفظونو کښې په وئیلو او لیکلو ښهٔ زوته کړي-



NOT FOR SALE

# زموږ پېغمبر حضرت محمد رسول الله خاتم النبيين صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم


## د زده کړې نتيجې

د دې سبق د لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د عامو خبرو په اورېدو د هغې په مطلب ورسي
- زده کړي ټکي په صحيح تلفظ ادا کړے شي
- د پښتو حروف تهجي په ترتيب سره او بې ترتيبه ولوستے شي
- خپل او نور نومونه وليکلے شي
- په مذکر او مونث پوهه شي

**خاص لفظونه:** پېغمبر صلی الله علیه وسلم، مکه معظمه ، قران مجيد ، اخري کتاب، حضرت، حکمونه، اسلام، منونکي، مسلمانان ، مدينه منوره

زموږ د خوږ پېغمبر صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم نوم حضرت محمد رسول الله خاتم النبيين صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم دے. دے په مکه معظمه کښې پېدا شوے ؤ. د پلار نوم ئې حضرت عبد الله ؤ. د مور بي بي نوم ئې حضرت امنه ؤ. خوږ پېغمبر صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم د الله پاک اخري پېغمبر صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم دے. د دۀ نه



NOT FOR SALE

پس به بل پېغمبر نهٔ راځي. په خوږ پېغمبر صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم الله پاک خپل اخري کتاب قرآن مجید نازل کړے دے. په قرآن مجید کښې الله پاک خپل حکمونه بیان کړي دي. زمونږ پېغمبر صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم چې مونږ ته کوم دین ښودلے دے د هغې نوم اسلام دے. د اسلام منونکي ته مسلمان وائي. مونږ ټول مسلمانان یو. د اسلام معنی ده سلامتیا. زمونږ پېغمبر صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم مونږ ته وئیلي دي چې د الله پاک مخلوق سره مینه کوئ. چا ته هم تکلیف مهٔ رسوئ. خوږ پېغمبر صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم به ماشومانو سره ډېره مینه کوله او دا به ئې فرمائیل چې د ماشومانو ښهٔ تعلیم او تربیت وکړئ. زمونږ پېغمبر صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم د خپل ژوند وروستي لس کاله په مدینه منوره کښې تېر کړي وو او هم هلته ئې پاک روضه ده.

perfect24u.com



NOT FOR SALE

## مشغولتیا

۱۔ د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره توره کړئ:

۱ زمونږ پېغمبر صلی الله علیه وعلیٰ آله واصحابه وسلم چېرته پېدا شوے ؤ؟

الف مدینه منوره ب مکه معظمه ج جده د طائف

۲ قرانٔ مجید د الله پاک کتاب دے۔

الف وړومبے ب اخري ج مینځنے د دوېم


۳ د اسلام منونکي ته وئیلے شي۔

الف مومن ب صالح ج مسلمان د عابد

۴ زمونږ پېغمبر صلی الله علیه وعلیٰ آله واصحابه وسلم په مدینه منوره کښې تېر کړي وو۔

الف دیارلس کاله ب نهٔ کاله ج لس کاله د پینځهٔ کاله

۲۔ مذکر ته مخامخ مونث ولیکئ:



| مذکر | مونث |
| --- | --- |
| ۱ پلار | |
| ۲ ورور | |
| ۳ زوے | |
| ۴ نیکهٔ | |



NOT FOR SALE

۳- په سبق کښې راغلي هغه لفظونه وليکئ چې حرف "ب" پکښې راغلے دے، لکه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | عبدالله |

۴- لاندې ورکړے شوي د يو کالم لفظونه د بل کالم د مناسبو لفظونو سره يو ځائې کړئ:

| کالم الف | کالم ب |
|---|---|
| مدينه منوره | ښهٔ تعليم |
| قران مجيد | سلامتيا |
| اسلام | کتاب |
| اخري | روضه |
| ماشومان | پيغمبر صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم |

perfect24u.com

۵- شلو پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې وليکئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۱ يولس | ۱۲ دولس | ۱۳ ديارلس | ۱۴ څوارلس | ۱۵ پينځلس |
| | | | | |
| ۱۲ شپاړس | ۱۷ اوؤه‌لس | ۱۸ اتلس | ۱۹ نولس | ۲۰ شل |
| | | | | |

د استاذ/ استاذې لارښودنه

په ماشومانو دې په لفظونو د اعرابو لګولو ښهٔ مشق وکړې.
د پښتو شمېره دې پرې تر شلو په هندسو او لفظونو کښې په وئيلو او ليکلو ښهٔ زوته کړي.

NOT FOR SALE

# ښهٔ صفتونه ، ښهٔ عادتونه

د زده کړې تنیجې

د دې سبق لوستو سره به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د عامو خبرو اترو په اورېدو د هغې په مطلب ورسي
- نوي نوي ټکي په صحیح تلفظ ولاړ کړے شي
- د مخصوصو تورو تلفظ په صحیح توګه وکړے شي
- پېنځهٔ حرفي ټکي ولیکلے شي
- په چاپېرچل کښې د موجودو څیزونو د فائدو نه خبر شي

خاص لفظونه

ګاونډ ، تکړه، رښتیا، خویونه، عادتونه، ملګرتیا، وخت ، لوبې ، جنګونه، خوښ

perfect24u.com

ځلور نامدار، ګلالۍ، امن خان او کشماله په یو ګاونډ کښې اوسېږي - ځلور واړه د یو سکول په اول جماعت کښې سبق وائي. ځلور واړه په سبق کښې ډېر تکړه دي - د مور، پلار، استاذانو او مشرانو ډېر عزت کوي - په کور کښې






NOT FOR SALE

مور پلار او په سکول کښې استاذانو چې ورته کوم ښهٔ خويونه او عادتونه ښودلي دي په هغې ئې ځان پوهه کړے دے او عمل پرې کوي - رښتيا وائي، بدې خبرې نهٔ کوي ، د ملګريو څيزونه بې تپوسه نهٔ راخلي - په خپلو کښې هم ښهٔ ملګري دي او د جماعت د نورو ماشومانو سره هم ښهٔ ملګرتيا ساتي -



perfect24u.com

سکول ته په وخت ځي - د سکول کار په وخت کوي او د لوبو په وخت خپلې لوبې کوي - په لوبو کښې جنګونه نهٔ کوي -

نامدار، ګلالۍ، امن خان او کشماله د ښو صفتونو او ښو عادتونو په وجه د هر چا خوښ دي -



NOT FOR SALE



# مشغولتیا

۱. د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره توره کړئ:

۱ الف: نامدار، ګلالۍ، امن خان او کشماله چیرته اوسېږي؟

الف په یو ګاونډ کښې
ج په یو کور کښې

ب په یو کلي کښې
د په یو ښار کښې

۲ هغوي ته ښهٔ عادتونه چا ښودلي دي؟

الف استاذانو
ب ګاونډیانو
ج ملګریو
د همځولو

۳ هغوي د یو بل څهٔ دي؟

perfect24u.com

الف خپلوان
ب وروڼه خوېندې
ج ملګري
د کلي وال

۲. په لاندینیو لفظونو کښې راغلي حرفونه جدا جدا ولیکئ:

۱ ګاونډ ____ ____ ____ ____ ____

۲ مشرانو ____ ____ ____ ____ ____ ____

۳ ملګریو ____ ____ ____ ____ ____ ____

۴ ځیزونه ____ ____ ____ ____ ____ ____

۵ صفتونه ____ ____ ____ ____ ____ ____



NOT FOR SALE

۳. دېرشو پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې ولیکئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۱ یوویشت | ۲۲ دوه ویشت | ۲۳ درې ویشت | ۲۴ خلیریشت |
| | | | |
| ۲۵ پینځهٔ ویشت | ۲۶ شپږ ویشت | ۲۷ اووهٔ ویشت | ۲۸ اتهٔ ویشت |
| | | | |
| ۲۹ نههٔ ویشت | ۳۰ دېرش | | |
| | | | |

۴. مونث ته مذکر ولیکئ

| مذکر | مونث |
|---|---|
| | ګاونډۍ |
| | اُستاذه |
| | مشره |
| | ماشومه |

perfect24u.com

۵. د سبق نه هغه لفظونه راغونډ کړئ چې د "س" نه شروع کېږي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

د استاذ/استاذې لارښودنه

ترد پرشوپورې شمېره دې پرې په هندسو او لفظونو کښې ښهٔ زوته کړي

NOT FOR SALE

# مور

## د زده کړې تتیجې

دې نظم وئیلو سره به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د ساده نظم په اورېدو د هغې نه خوند واخستے شي
- د ماشومانو نظمونه په خوږ اواز وئیلے شي
- توري د صحیح غږونو سره ولوستے شي
- صحیح او د علت توري وپېژني
- د تورو مختلف شکلونه او غږونه وپېژني



**خاص لفظونه**

مورې، تورې، ټکور، انتها، زړګے، کړاوونه، خدمتونه، ارمانونه، عبادت، اخرت

perfect24u.com

ځار خوږې مورې — د ستړګو تورې

د زړه ټکور ئې — زما غم خورې

مینه چې ستا ده — بې انتها ده

هر چا منلې — دغه وینا ده





NOT FOR SALE

بچو د پاره — خپل زړګے زورې

ستا کړاوونه — ستا خدمتونه

زړۀ کښې مې ځا دي — ستا ارمانونه

د مینې پور دې — په ما دے پورې


ستا چې خدمت کړې — لوئې عبادت کړې

ښکلې دنیا کړې — هم اخرت کړې

له مینې جوړه — په مینه ګورې

(نورالرحمان سحرؔ)

perfect24u.com



### ۳. مذکر ټکو ته مونث ولیکئ

| مونث | مذکر |
|---|---|
| | خوږ |
| | تور |
| | لوئ |
| | بچے |

**قواعد:**

**توري:** د اواز لیکلي شکل ته توري وائي لکه ا ، ب ، پ ، ت ، ټ ، ث

**دَ علت توري:** ا ، و ، ي د علت توري دي۔ د دې په مدد د خلې نه اواز وېستے شي۔

perfect24u.com

**صحیح توري:** د شونډو، ژبې او غاښونو په مدد چې کوم توري ادا کولے شي هغه صحیح توري بللے شي۔ ب ، پ ، ت ، ټ

### ۴ داسې شپږ لفظونه ولیکئ چې ا ، و ، ي پکښې استعمال شوي وي۔

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |

**یادګېرنه:**

دا نظم دې ماشومان په خوږ اواز خپلو ملګریو ته واوروي۔

**د استاذ/استاذې لارښودنه:**

د لفظونو په مرسته دې په ماشومانو د صحیح او د علت د تورو ښهٔ مشق وکړي۔

NOT FOR SALE

## مشغولتیا

۱: په لاندینو خالي ځایونو کښې درست جواب ولیکئ:

۱ نظم کښې د زړهٔ ټکور [ ] وئیلے شوے دے؟

الف پلار ته ب زوي ته ج مور ته د خور ته

۲ ځوک چې د مور خدمت کړي تل به [ ] وي

الف کامیاب ب ناکامه ج خوار د خفه

۳ د ''پور'' معنیٰ ده [ ]

perfect24u.com

الف بدل ب قرض ج پاک د خوږ

۲: یو شان اواز لرونکي لفظونه ولیکئ:

| | |
|---|---|
| ۱ ستا | وېنا |
| ۲ کړاوونه | |
| ۳ خدمت | |
| ۴ مورې | |
| ۵ ټکور | |





NOT FOR SALE

# درې مهیان


## د زده کړې نتیجې:

د قیصې لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د ماشومانو د قیصو په اورېدو د هغې نه خوند واخستے شي
- اسان ټکي ولوستے شي
- تصویرونه او خاکې رنګ کولے او معلومولے شي
- ساده جملې ولیکلے شي
- په چاپېرچل کښې د موجودو ساه لرونکو او بې ساه څیزونو نومونه ولیکلے شي


**خاص لفظونه:** مهیان، بېدیا، ډنډ، هوښیار، کم عقل، مینځنے، دوارو، ډب، منډې ترړې، دام.

په یوه بېدیا کښې یو ډنډ وُ. د ډنډ یو سر روانو اوبو سره لګېدلے وُ. په دې ډنډ کښې درې مهیان اوسېدل. مشر مهے ډېر هوښیار وُ. مینځنے هوښیار نهٔ وُ خو خبره به ئې منله. کشر مهے بېخي کم عقل وُ او خبره به نې هم نهٔ منله.



NOT FOR SALE

یوه ورځ چې دوه ښکاریان د دغه ډنډ په غاړه تېرېدل نو یو بل ته ئې ووې چې سبا له به دې ډنډ ته د مهیانو ښکار له راځو. مهیانو چې د هغوی خبرې واورېدې نو مشر مهي باقي دوو مهیانو ته مشوره ورکړه چې مونږ له اوس د دې ډنډ نه وتل پکار دي. مینځني مهي د مشر خبره ومنله او شپه په شپه دواړو ځان روانو اوبو ته ورسوهٔ او ځان ئې بچ کړهٔ. کم عقل مهي خبره ونهٔ منله.



سبا له د مهیانو ښکاریان جال په لاس راغلل. د ډنډ خلهٔ ئې ډب کړه. کم عقل مهي چې جال ولیدهٔ نو اخوا دېخوا ئې ډېرې منډې ترړې ووهلې خو د خپلې ناتجربه کارۍ او کم عقلتیا په وجه په دام کښې ګېر شهٔ او ښکاریانو ته په لاس ورغے.


NOT FOR SALE




۱. د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره توره کړئ

۱ په ډنډ کښې څو مهیان وو؟

الف دري　ب څلور　ج پینځهٔ　د اووهٔ

۲ کوم یو مهے ډېر هوښیار ؤ؟

الف کشر　ب مینځنے　ج مشر　د ټول

۳ کوم یو مهي به خبره نهٔ منله؟

الف مشر　ب مینځني　ج کشر　د مشر او کشر

۴ ښکاریان څو کسان وو؟

الف دوه　ب درې　ج څلور　د پینځهٔ

۵ ښکاریانو څو مهیان ونیول؟

الف یو　ب دوه　ج درې واړه　د څلور

۲. صحیح جملې ته (✓) او غلطې ته (X) ولګوئ

۱ په یوه بېدیا کښې یو ډنډ ؤ

۲ په ډنډ کښې ډېر مهیان وو

۳ ښکاریان د ډنډ په غاړه ناست وو

NOT FOR SALE

۴ مینځني مهي خبره ونهٔ منله

۵ کشر مهے د ښکاریانو په لاس ورغے

## ۳. ځلوېښتو پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې ولیکئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۱ یو د پرش | ۳۲ دوه د پرش | ۳۳ درې د پرش | ۳۴ څلور د پرش |
| | | | |
| ۳۵ پینځهٔ د پرش | ۳۶ شپږ د پرش | ۳۷ اووهٔ د پرش | ۳۸ اتهٔ د پرش |
| | | | |
| ۳۹ نههٔ د پرش | ۴۰ څلوېښت | | |
| | | | |

perfect24u.com

## ۴. ورکړے شوي لفظونه په خالي ځایونو کښې ولیکئ او جملې پوره کړئ:

مهیانو | روانو | کم عقلتیا | خلهٔ | ښکاریان

۱ د ډنډ یو سر ______ او بو سره لګېدلے ؤ

۲ دوه ______ د ډنډ په غاړه تېرېدل

۳ سبا له به دې ډنډ ته د ______ ښکار له راځو

۴ د ډنډ ______ ئې ډب کړه

۵ د ______ په وجه په دام کښې ګېر شهٔ

NOT FOR SALE

۵. واحد ته مخامخ جمع ولیکئ:

| واحد | جمع |
|---|---|
| مېږې | |
| ښکاري | |
| هوښیار | |
| ډنډ | |
| جال | |

٦. املا زده کړئ:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لګېدلې | اوسېدل | ببخي | کم عقل | تېرېدل | واورېدې |
| مشوره | راغلل | منډې ترړې | ګېر | | |

perfect24u.com

د استاذ استاذې لارښوونه:

ماشومانو ته چې کومې قیصې یادې دي هغه دې پرې په کلاس کښې واوروي. تر ثلوبښتو شمېره دې پرې په هندسو او لفظونو کښې ښهٔ زده کړي.



NOT FOR SALE

# صفائي




## د زده کړې تيجې

د دې سبق لوستو سره به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د اعلانونو او هدایاتو په اورېدو د هغې په مطلب پوهه شي
- ساده جملې وئیلې شي
- د ساده پوښتنې جواب ورکړے شي
- د ساده جملو واړهٔ عبارتونه ولوستے شي
- اسم، فعل، حرف وپېژني
- د ورځو نومونه ولیکلے شي

**خاص لفظونه**

سلام کلام، حاضري، سخا په سخا، صفائي، خبرې اترې، چاپېرچل، لارې کوڅې، کنټېنر، پلاسټک، خوشحاله

نن چې مس رنا کلاس ته راننوته نو د سلام کلام او حاضرۍ نه پس ئې ماشومانو سره د صفایۍ په حقله خبرې اترې شروع کړې. مس رنا ووئیل چې په هفته کښې اووهٔ ورځې وي؛ ګل، نهه، شورو، زیارت، جمعه، خالي او اتوار.



NOT FOR SALE

نن د ګل ورځ ده او په دې ورځ په سکول کښې د ماشومانو صفايي کتے شي خو د دې مطلب دا نۀ دے چې تاسو صرف د ګل په ورځ د صفايي خيال وساتئ او په نورو ورځو بيا سخا په سخا يئ. صفائي په هروخت کښې ضروري ده. نۀ صرف د بدن او جامو بلکې د چاپېرچل صفايي هم پکار ده. مس رښا ماشومانو ته ووئيل چې يو يو ماشوم ما ته د صفايي په حقله يوه يوه خبره وکړئ.

کامران: جي مس مونږ له خپل بدن صفا سوتره ساتل پکار دي.

پلوشه: جي مس زۀ د خپلو جامو د صفايي ډېر خيال ساتم.

غُنچه: مونږ خپل سکول او کمره صفا سوتره ساتو.

شاندار: جي مس لارې کوځې هم صفا سوتره ساتل پکار دي.



ګلالۍ: د پلاسټک تېلۍ په لارو کوځو کښې غورځول نۀ دي پکار

امن خان: د کورخزلې د خزلې په کنټېنر کښې اچول پکار دي.

مس رښا ماشومانو ته ووې چې زۀ نن ډېره خوشحاله شوم چې تاسو د صفايي په حقله ډېرې ښې خبرې وکړې. مونږ له پکار دي چې په دې خبرو عمل وکړو او خپل چاپېرچل ښائسته کړو.

NOT FOR SALE



## مشغولتیا

### ۱. د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره توره کړئ:

۱ د سکول د ماشومانو صفائي په کومه ورځ کتے شي؟

الف جمعه ب خالي ج اتوار د ګل

۲ صفائي کله ضروري وي؟

الف کله کله ب هر وخت

ج جمعه په جمعه د د ګل په ورځ

۳ د کور خزلي چرته اچول پکار دي؟

perfect24u.com

الف په ډاګه کښې ب په لاره کښې

ج په کنټېنر کښې د په کوڅه کښې

۴ د ماشومانو د خوراک څیزونه په څه کښې بند وي.

الف په شیشه کښې ب په لرګي کښې

ج په کپړه کښې د د پلاسټک په ګوتو کښې

### ۲. هر لفظ ته لاندې د هغې جمع ولیکئ:

| کلاس | ماشوم | ورځ | جامه | سکول |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| | | | | |

NOT FOR SALE

۳- د کالم (الف) لفظونه د کالم (ب) د مناسبو لفظونو سره د کرښې په ذریعه یو ځائې کړئ:

| کالم الف | کالم ب |
|---|---|
| ګل | جامې |
| صفا | تپلی |
| خزله | ماشومان |
| پلاستک | کنټېنر |
| سکول | ورځ |
| کلاس | |

perfect24u.com

۴- په خالي ځایونو کښې مناسب لفظونه ولیکئ:

| کنټېنر | کمره | چاپېرچل | کلاس |
|---|---|---|---|



۱ نن چې مس رښا ______ ته راننوته.

۲ د ______ صفائي هم پکار ده.

۳ د کور خزلې د خزلې په ______ کښې اچول پکار دي.

۴ مونږ خپل سکول او ______ صفا سوتره ساتو.

۵. پنځوس پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې ولیکئ:

| | | |
|---|---|---|
| ۴۱ یو څلوېښت | ۴۲ دوه څلوېښت | ۴۳ درې څلوېښت |
| | | |
| ۴۴ څلور څلوېښت | ۴۵ پینځهٔ څلوېښت | ۴۶ شپږ څلوېښت |
| | | |
| ۴۷ اووهٔ څلوېښت | ۴۸ اتهٔ څلوېښت | ۴۹ نههٔ څلوېښت |
| | | |
| ۵۰ پنځوس | | |
| | | |

perfect24u.com

## اسم:



د څهٔ څیز، ځائې یا بنده نوم ته اسم وئیلے شي۔

لکه: قلم کتاب هلك

څو اسمونه ولیکئ۔

..............................................

..............................................

**د استاذ/استاذې لارښودنه:**

په ماشومانو کښې دې عملاً د صفایۍ عادت پیدا کړي۔
ماشومان دې د صفایۍ په اهمیت پوهه کړي۔
تر پنځوسو شمېره دې په هندسو او لفظونو کښې ښه زوته کړي۔

# د خبرو اترو اداب

## د زده کړې نتيجې



د دې سبق لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د عامو خبرو اترو په اورېدو د هغې په مطلب ورسي
- د ناستې ولاړې او راشه درشه مروجه ټکي او جملې ادا کړے شي
- د پښتني رواياتو سره سم د خبر په خبر چل زده کړي
- لنډې جملې وليکلے شي
- سوال او جواب په اعتماد وکړے شي

**خاص لفظونه:** په خېر راغلې، وبخښه ، سپکې ، ادب ، مشرانو ، مجلس

مونږ چې يو بل سره ليدل کتل او خبرې اترې کوو نو پکار دي چې په هغې کښې د ادابو خيال وساتو ۔ يو بل سره د ليدو په وخت السلام عليکم ، په خېر راغلې يا ستړے مه شې ووايو او په جواب کښې وعليکم السلام، خدا ے دې وبخښه يا خوار مه شې ووايو ۔ څوک چې خبره کوي هغۀ ته غوږ کښېږدو ۔ په مجلس کښې سپکې خبرې نۀ کوو ۔ د مشرانو خبرې په توجه سره اورو او په جواب کښې ښه جي يا نه جي وايو ۔ کله چې د يو بل نه رخصت اخلو نو د الله په امان يا په مخه دې ښه وايو ۔ بنيادم په ښو او خوږو خبرو ښۀ ښکاري او چې په خبرو کښې د ادب خيال ساتي نو هر څوک پرې ښۀ وائي ۔



NOT FOR SALE



## مشغولتیا

**۱. د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره تورہ کړئ:**

۱ یو بل سره د لیدو په وخت څهٔ وئیل پکار دي ؟

الف السلام علیکم   ب د الله په امان   ج په مخه دې ښه

۲ د سلام په جواب کښې څهٔ وئیل پکار دي؟

الف په خیر راغلې   ب وعلیکم السلام

ج په مخه دې ښه

۳ په مجلس کښې به څنګه خبرې کوئ؟

الف ډېرې خبرې   ب سپکې خبرې

ج ښې خبرې

perfect24u.com

**۲. هر سلام کلام ته لاندې په کرښه د هغې جواب ولیکئ:**

| السلام علیکم | په خیر راغلې | ستړے مه شې |
|---|---|---|
| | | |

**۳. ورکړے شوي لفظونه په مناسبو خالي ځایونو کښې ولیکئ:**

۱ څوک چې خبره کوي هغهٔ ته ـــــــ کښېږدو - (سر، غوږ، مخ)

۲ د مشرانو خبرې په ـــــــ سره اورو - (سختی، غور، توجه)

۳ بنیادم په ښو ـــــــ ښهٔ ښکاري - (خوراکونو، خبرو، ګرځېدو)

**د استاذ/استاذې لارښودنه**

په ماشومانو دې د خبرو اترو عملي مظاهره وکړي-

NOT FOR SALE

# کار او کارکوونکي


## د درس موخې

د نظم د لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- نظم په صحیح اهنګ کښې ووئیلے شي
- یو شان غږ لرونکي ټکي وپېژني
- اسم ، فعل او حرف وپېژني
- د بېلا بېلو څیزونو د ضرورت مطابق استعمال وکړے شي
- په ټولنه کښې موجود کسب ګر لکه کولال، ترکاڼ، تنداف او لوهار وغیره وپېژني



**خاص لفظونه:** نمر، رهبر، ډاکټر، علاج، ګنډل، ترکاڼ، زمیدار، بهتر، ګلکار، بټی



د علم نمر دے

perfect24u.com

استاذ رهبر دے



دا چې علاج کړي

دغه ډاکټر دے



ترکاڼ جوړ کړے

د لرګي ور دے



درزي ګنډل کړي

نزدې اختر دے



NOT FOR SALE

زميدار ګوډ کړي



په سرئي نمر دے



ډاکي راوړے

بيا څۀ خبر دے



زوړ مرمت له

چميار بهتر دے



ګلکار ساز کړے

ديوال تر سر دے

perfect24u.com



لوهار بټۍ کړي

ښۀ کاريګر دے



چاړه په لاس دے

قصاب زړۀور دے



ګاډي ته ناست دے

دغه ډرائيور دے

اهم په خپل ځاے هر يو هنر دے

(فرهاد محمد غالب ترين)

NOT FOR SALE

## مشغولتیا

۱: لاندینو خالي ځایونو کښې درست جواب ولیکئ:

۱ ډاکټر ـــــــ کوي.

الف ګنډل  ب علاج  ج مرمت  د ګوډ

۲ زمیدار ـــــ کښې ګوډ کوي.

الف هسپتال  ب سکول  ج پټي  د کور

۳ ترکاڼ ......... ور جوړوي.

الف د لرګي نه  ب اوسپنې نه  ج پلاسټک نه  د شیشے نه

۴ د اوسپنې کار ......... کوي.

الف ترکاڼ  ب ګلکار  ج لوهاز  د ډاکټر

۵ نظم کښې ......... رهبر وئیلے شوے دے

الف استاذ ته  ب ډاکټر ته  ج ډرائیور ته  د درزی ته

2: په هره مصرع پسې دوېمه ولیکئ:

۱ د علم نمر دے

۲ ترکاڼ جوړ کړے

۳ ډاکي راوړے

۴ اهم په خپل ځاے



NOT FOR SALE

۳. د کالم (الف) مناسب لفظونه د کالم (ب) د لفظونو سره د کرښې په ذریعه یو ځائې کړئ:

| کالم الف | کالم ب |
| --- | --- |
| علاج | ګاډے |
| زمیدار | قصاب |
| دېوال | ډاکټر |
| ډرائیور | ګوډ |
| چاړهٔ | ګلکار |

perfect24u.com

فعل:

کار کولو ته فعل وائي خو چې د وخت سره ئې تعلق وي ، لکه

ولیکه لیکي لیکم لیکو به

یادګیرنه: دا نظم دې ماشومان په یادو یاد کړي او خپلو ملګریو ته دې په خوند خوند واوروي۔

د استاذ/استاذې لاربنودنه

په ماشومانو دې د خبرو اترو عملي مظاهره وکړي۔

# باز او چرګ

## د زده کړې پایلې

د قیصې لوستونه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د ماشومانو د قیصو او لطیفو په اورېدو د هغې نه خوند واخستے شي
- د مخصوصو تورو تلفظ په صحیح توګه وکړے شي
- په چاپېر چل کښې د ساه لرونکو او بې ساه څیزونو نومونه واخستے شي
- پیبنځهٔ حرفي تکي ولیکلے شي
- په واحد جمع پوهه شي

**خاص لفظونه:** ملګرتیا، چرګ، مارغه، ښکره، حفاظت، بندوبست، نتیجه، سیخ کباب، تبخې، ملامته

د یو باز او چرګ ملګرتیا جوړه شوې وه. دواړه به کله کله یو ځائے ناست وو. یوه ورځ ورته باز ووې.

perfect24u.com

**باز:** ملګریه! تهٔ ما ته ډېر بې وفا مارغهٔ ښکارې.

**چرګ:** تا زما څهٔ داسې بې وفائي لیدلې ده چې داسې وائې.

**باز:** ګوره بنیادم تا سره څومره ښېګړه کوي ، ستا د دانې اوبو خیال ساتي،




NOT FOR SALE

ستا د ارام او حفاظت بندوبست کوي ولې کله چې هغه ستا د نیولو اراده وکړي نو ته ترېنه په یو او بل دېوال زغلې او ځان نهٔ ورکوې.

زهٔ د هوا مارغهٔ یم ولې کله چې د بنیادمو سره ځو ورځې تېرې کړم نو د هغوي په یو اواز ورته ځان رسوم.

چړګ: دوسته! زما تېښته او ستا راتلل سره ډېر فرق لري. تا به چرته یو باز په سیخ کښې تومبلے یا په تبخي وریت نهٔ وي لیدلے او ما په سوونو چرګان په چاړهٔ حلال او په اور وراتهٔ کړي لیدلي دي که تا سره دا کارونه شوي



وے نو زهٔ خو دېوال په دېوال زغلم او تهٔ به د غرونو نه هم پناه شوے وے".

باز چې د چرګ دغه جواب واورېدهٔ نو په خپله خبره ورته ځان ډېر ملامته ښکاره شهٔ.

NOT FOR SALE

# مشغولتیا

۱: د صحیح جواب لټون وکړئ او دائرې ئې په پنسل توري کړئ:

۱ تهٔ ما ته ډېر بې وفا مارغهٔ ښکارې. دا خبره چا کړې وه؟

الف چړګ ب باز ج بنیادم د ښاروي

۲ باز د څهٔ مارغهٔ دے؟

الف زمکې ب اوبو ج هوا د کور

۳ چړګان خلق په څهٔ حلالوي؟

الف تبر ب ټوکه ج چاړهٔ د بلېډ

perfect24u.com

۴ کوم د کور ساتلو مارغهٔ دے؟

الف باز ب چړګ ج بلبل د ښاپېرک

۵ باز د چړګ په جواب څهٔ شهٔ؟

الف خوشحاله ب غصه ج ملامته د خفه

2: د لاندینو ټکو په مرسته خالي ځایونه ډک کړئ او جملې پوره کړئ

چړګ خیال دېوال فرق غرونو

۱ د یو باز او ______ ملګرتیا جوړه شوې وه.

۲ ستا د دانې، اوبو ______ ساتي

۳ تهٔ ترې نه په یو او بل ____ زغلې

NOT FOR SALE

۴ زما تېښته او ستا راتلل ډېر ______ لري

۵ ته به د ______ نه هم پناه شوې وې

### 3 د واحد جمع ولیکئ


| واحد | جمع |
|---|---|
| چرګ | چرګان |
| دېوال | |
| مارغه | |
| دانه | |
| تبخې | |

perfect24u.com

**د استاذ/ استاذې لارښوونه**

په ماشومانو دې په چاپېرچل کښې د موجودو ساه لرونکو او بې ساه څیزونو نومونه واخلي.

ماشومانو ته دې د مارغانو د عادتونو په حقله خبرې وکړي.



# عبدالرحمان بابا رحمته الله علیه

## د زده کړې نتيجې

د دې سبق په لوستو به ماشومان د دې جوګه شي چې

- ساده جملې وئيلے شي
- د ساده پوښتنې جواب ورکړے شي
- اسم، فعل او حرف وپېژني
- د ملي اتلانو نومونه او تصويرونه وپېژندے شي
- د اخلاقي رويو په حواله پښتني روايات وپېژني

**خاص لفظونه:** پښتو، شاعر، مشهور، پښتون، پښتانهٔ، پېښور، شعرونه، نصيحتونه، سيمه، ګلزار

د رحمان باباؒ پوره نوم عبدالرحمان دے خو پښتانهٔ ورته د ډېرې مينې نه رحمان باباؒ وائي. عبدالرحمان بابا د پښتو ډېر لوے شاعر ؤ. دے د پښتو د ټولو نه زيات مشهور شاعر هم دے. داسې پښتانهٔ به ډېر کم وي چې د رحمان باباؒ نوم به ئې نهٔ وي اورېدلے. دے پېښور سره نزدې په بهادر کلي کښې پېدا شوے ؤ. د پلار نامه ئې عبدالستار وه. د رحمان باباؒ د شعرونو کتاب "د رحمان باباؒ ديوان" په نوم يادېږي چې ډېر ښکلي شعرونه پکښې دي. رحمان باباؒ په خپله شاعرۍ کښې د ښو اخلاقو درس ورکړے دے او خوږهٔ خوږهٔ نصيحتونه ئې کړي دي لکه:

کر د ګلو کره چې سيمه دې ګلزار شي
ازغي مه کره په پښو کښې به دې خار شي


NOT FOR SALE

د رحمان بابا مزار پېښور سره نږدې د هزار خوانی په مقبره کښې دے چې خلق ئې د لرې لرې نه زيارت ته راځي۔




### 1۔ د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره تورہ کړئ

۱ رحمان بابا د کومې ژبې شاعر دے؟

الف اردو ب پښتو ج انګرېزي د فارسی

perfect24u.com

۲ پښتانۀ رحمان بابا ته بابا ولې وائي؟

الف د ډېرې مزې نه ب د ډېرې غصې نه

ج د ډېرې وېرې نه د د ډېرې مينې نه

۳ عبدالستار د رحمان بابا څۀ ؤ ؟

الف نيکۀ ب ترۀ ج پلار د ورور

۴ رحمان بابا په کومه مقبره کښې ښخ دے؟

الف د مردان ب د بهادر کلي ج د ماشو کلي د د هزار خوانی

NOT FOR SALE

2. ورکړے شوي لفظونه په خالي ځایونو کښې ولیکئ او جملې مکملې کړئ:

| شاعر | بهادر | مزار |
|---|---|---|

١ د رحمان بابا ____ د هزار خوانۍ په مقبره کښې دے

٢ دے د پېښور سره نژدې په ____ کلي کښې پېدا شوے ؤ

٣ دے د پښتو د ټولو نه زیات مشهور ____ هم دے

3. ترشپېتو پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې ولیکئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٥١ | یو پنځوس | ٥٢ | دوه پنځوس | ٥٣ | درې پنځوس |
| | | | | | |
| ٥٤ | څلور پنځوس | ٥٥ | پینځهٔ پنځوس | ٥٦ | شپږ پنځوس |
| | | | | | |
| ٥٧ | اوهٔ پنځوس | ٥٨ | اتهٔ پنځوس | ٥٩ | نههٔ پنځوس |
| | | | | | |
| ٦٠ | شپېتهٔ | | | | |

4. د لاندېنو لفظونو نه ساده جملې جوړې کړئ:

١ کتاب

____

٢ لوے

____

٣ نوم

____



NOT FOR SALE

5. د کالم (الف) او کالم (ب) لفظونه د کرښې په ذریعه جوړه کړئ:

| کالم الف | کالم ب |
|---|---|
| شاعر | عبدالستار |
| کتاب | هزارخواني |
| مزار | دیوان |
| پلار | رحمان باباؒ |
| بهادر کلې | پېدائش |

perfect24u.com

قواعد:

**حرف:** دا هغه ټکي ته وائي چې په خپله څۀ معنی نۀ لري خو د جملې معنی پوره کوي، لکه به، په، نه، پورې وغېره

**خوشخطي:** د سبق نه حرفونه راغونډ کړئ او کاپي کښې ئې خوشخطه ولیکئ

د استاذ/استاذې لارښودنه

په ماشومانو دې د ملي اتلانو تصویرونه راوړي، په چارټ دې ئې ولګوي او په کلاس کښې دې اوبزان کړي۔

په ماشومانو دې دیو پنځوسو نه ترشپېتۀ شمېره په هندسو او لفظونو ښۀ زوته کړي۔



# موبائل فون

**د زده کړې نتیجې**

د نظم لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- نظم په درست آهنګ کښې وئیلے شي
- یو شان اواز لرونکي ټکي وپېژني
- د ځینې جدیدو هنرونو او ایجادونو سره اشنا شي

**خاص لفظونه**

جېب، رنګین، سکرین، بېټري، کلکولېټر، خبرې، ټي وي، رېډيو، مددګار



ډبے داسې اعلیٰ یم
په جېب کښې د هرچا یم



هر څو که وي څوک لرې
په ما وکړي خبرې



ساده یم هم رنګین یم
د ټي وي ښکلے سکرین یم



بېټري کلکولېټر یم
د وخت نه هم خبر یم



NOT FOR SALE

هم کارد ریډیو کړم
پهٔ نېټ کښې مدد ګار یم

اسان هر یو کړاو کړم
موبائل یم، د کار یم

(فیض الوهاب فیض)

## مشغولتیا

۱: لاندینی لفظونه په خالي ځایونو کښې ولیکئ او مصرعې پوره کړئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| سکرین | کړاو | خبرې | نېټ | خبر |

perfect24u.com

۱ په ماو کړې ________
۲ د وخت نه هم ________ یم
۳ د ټي وي ښکلے ________ یم
۴ اسان هر یو ________ کړم
۵ په ________ کښې مدد ګار یم

۲: ورکړے شوي ټکو ته مخامخ د هغې په شان اواز لرونکي ټکي ولیکئ:

۱ خبرې ________
۲ چا ________
۳ رنګین ________
۴ مدد ګار ________

NOT FOR SALE

۳- د نظم نه هغه لفظونه راغونډ کړئ چې د "ر" استعمال پکښې شوی وي او په خپلو کاپو کښې ئې ولیکئ.

۴- اویاؤ پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې ولیکئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | یو شپېته | ۲۲ | دوه شپېته | ۲۳ | درې شپېته |
| | | | | | |
| ۲۴ | څلور شپېته | ۲۵ | پېنځهٔ شپېته | ۲۶ | شپږ شپېته |
| | | | | | |
| ۲۷ | اووهٔ شپېته | ۲۸ | اتهٔ شپېته | ۲۹ | نهٔ شپېته |
| | | | | | |
| ۷۰ | اویا | | | | |

یادګېرنه

ماشومان دې دا نظم په یادو یاد کړي او په خوند خوند دې یو بل ته واوروي.

د استاذ/استاذې لارښودنه


په ماشومانو دې د مختلفو ایجادونو نومونه ووائي او په بورډ دې ئې ولیکي.
په ماشومانو دې د یو شپېتهٔ نه تر اویا شمېره په هندسو او لفظونو کښې ښهٔ زده کړي.



NOT FOR SALE

# دوه لونه او يوه كجوره

## د زده كړې نتيجې



د قيصې د لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- قيصې په خپلو لفظونو كښې بيان كړے شي
- د خير ښېګړې جذبه پكښې پېدا شي
- د مونث اسمونو مذكر وليكلے شي
- د ساده جملو واړهٔ عبارتونه ولوستے شي
- د ماشومانو د قيصو په اورېدو د هغې نه خوند واخستے شي

perfect24u.com

**خاص لفظونه:** ښځه، لونه، هيڅ، كجوره، حصې، نيمه، قيصه ، فرمائيل، مينه، اولاد

يوځل يوه ډېره غريبه ښځه خوږ نبي حضرت محمد رسول الله خاتم النبيّين صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم كره راغله. دوه ماشومانې لونه ورسره هم وې. خوږ نبي حضرت محمد رسول الله خاتم النبيّين صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم كور كښې موجود نهٔ وهٔ. دغه وخت بي بي عائشې سره د خوراك هيڅ نهٔ وو چې غريبې ښځې له ئې وركړے وے. په كور كښې يوه كجوره په لاس ورغله او هغه ئې دغې ښځې له وركړه.



NOT FOR SALE

غریبه ښځه ډېره خوشحاله شوه ، کجوره ئې دوه برخې کړه او لوڼو له ئې نیمه نیمه ورکړه۔ کله چې خوږ نبي حضرت محمد رسول الله خاتم النبیّین صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم کور ته راغلے نو بي بي عائشې رضي الله عنها ورته قیصه بیان کړه۔ خوږ نبي حضرت محمد رسول الله خاتم النبیّین صلی الله علیه وآله واصحابه وسلم و فرمائیل څوک چې خدائے پاک د اولاد په مینه کښې واچوي او هغوي ئې حق پوره کړي نو د دوزخ له اوره به په امان شي۔

perfect24u.com




۱ : د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره توره کړئ :

۱ غریبې ښځې سره څو لوڼه وې ؟

الف دوه — ب درې — ج څلور — د پینځهٔ

۲ بي بي عائشې رضي الله عنها له کوم څیز په لاس ورغے ؟

الف ډوډۍ — ب اوړهٔ — ج شات — د کجوره

۳ غریبې ښځې کجورې سره څهٔ وکړل؟

الف وئې خوړه — ب وئې غورځوله

ج یوې لور له ئې وکړه — د دوه برخې ئې کړه

**۲: د ورکړې شوي لفظونو په مدد سره جملې پوره کړئ:**

| کجوره | امان | قیصه | موجود | نیمه خوا |
|---|---|---|---|---|

۱. خوږ نبي حضرت محمد رسول الله خاتم النبیین صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم کور کښې ـــــــ نه وه.

۲. [illegible]

۳. لونو له ئې ـــــــ ورکړه.

۴. بي بي عائشې رضي الله عنها ورته ـــــــ بیان کړه.

۵. د دوزخ له اوره به په ـــــــ وي.

perfect24u.com

**۳: مونث ته مخامخ مذکر ولیکئ**

| مونث | مذکر |
|---|---|
| ښځه | |
| لور | |
| غریبه | |
| ماشومه | |
| نیمه | |

## ۴- اتیا و پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې ولیکئ:


| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷۱ | یو اویا | ۷۲ | دوه اویا | ۷۳ | درې اویا |
| | | | | | |
| ۷۴ | څلور اویا | ۷۵ | پینځۀ اویا | ۷۶ | شپږ اویا |
| | | | | | |
| ۷۷ | اوۀ اویا | ۷۸ | اتۀ اویا | ۷۹ | نهۀ اویا |
| | | | | | |
| ۸۰ | اتیا | | | | |

perfect24u.com

**د استاذ/استاذې لارښودنه**

استاذ یا استاذې ته چې کومه قیصې یاده وي هغه دې ماشومانو ته ووائي.

پۀ ماشونو دې د یو اویا نه تر اتیا شمېره په هندسو او لفظونو کښې ښۀ زوته کړي




NOT FOR SALE

# حجره

## د زده کړې نتیجې



د دې سبق لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- ساده جملې او واړهٔ عبارتونه ولوستے شي
- د تورو مختلف شکلونه او غړونه وپېژني
- اسم، فعل او حرف وپېژني
- د ښې بدې، اختر شوقدر او غم ښادۍ موقعې وپېژني
- اشر غوبل او کلي کلوښغۍ سره اشنا شي
- د ټولنې بنيادي ادارې لکه حجره، جومات، چم، ګاونډ، سکول او داسې نور وپېژندے شي

**خاص لفظونه:** کلے، چم، محله، حجره، محلت، بالښتونه، کټونه، بسترې، مېلمه، مسافر

perfect24u.com

د پښتنو د هر کلي په هره محله کښې حجره خامخا وي. حجره د چم، محلت د غم ښادۍ ځائې وي. حجره د ټولو خلقو په شريکه وي چې غم وشي نو ټول خلق په حجره کښې راغونډ شي. هر سړے د خپل کور نه کټ او بالښتونه راواخلي او حجرې ته ئې راوړي. په حجره کښې خپل کټونه او بالښتونه هم وي خو په غم ښادۍ کښې د هر کټونه او بالښتونه پکارېږي.



دغه ضرورت د چم محلت خلق پوره کوي. په ښادۍ کښې هم د مېلمنو د کټ بسترې غم د چم محلت خلق کوي. حجره د صلاح مشورې ځاے دے او جرګې مرکې پکښې هم کېږي. حجره کښې مختلفې لوبې هم کولے شي او ټنګ ټکور پکښې هم کېږي. حجرې ته راغلے مېلمه د ټول چم محلت شریک مېلمه وي. که څوک مسافر حجرې ته راشي نو ټول چم محلت ئې خدمت کوي. حجره زمونږ د ژوند یوه ضروري برخه ده او یو بل ته د نزدې کېدو ښه ذریعه ده.




۱. د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره توره کړئ:

۱ د غم ښادۍ ځاے ته وایي؟

perfect24u.com

الف کور ب جومات ج کلے د حجره

۲ هر سړے د کور نه حجرې ته راوړي

الف کرسۍ ب کټ ج مېز د لرګي

۳ په غم ښادۍ کښې ډېر پکار وي

الف کټونه بالښتونه ب لوښي لرګي

ج کرسۍ مېزونه د چائنک پیالۍ

۴ په حجره کښې کېږي

الف مونځ اودس ب خوراک ج ګپ شپ د جرګې مرکې

۵ د مسافر خدمت څوک کوي

الف ټول بازار ب ټول جومات ج ټول چم محلت د یو کس نیم



NOT FOR SALE

۲- ورکړے شوي لفظونه په خالي ځايونو کښې وليکئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| چم محلت | شريک | کتهونه | صلاح مشورې | ذريعه |

1. حجره د ________ ځائې وي.
2. دغه ضرورت د ________. خلق پوره کوي.
3. غم ښادۍ کښې د ير ________ او بالښتونه پکار وي.
4. يو بل ته د نږدې کېدو ښه ________ ده.
5. حجرې ته راغلے مېلمه د ټول چم محلت ______ مېلمه وي

۳- نوې پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې وليکئ:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸۱ | يو اتيا | ۸۲ | دوه اتيا | ۸۳ | درې اتيا |
| | | | | | |
| ۸۴ | څلوراتيا | ۸۵ | پينځهٔ اتيا | ۸۶ | شپږ اتيا |
| | | | | | |
| ۸۷ | اووهٔ اتيا | ۸۸ | اتهٔ اتيا | ۸۹ | نههٔ اتيا |
| | | | | | |
| ۹۰ | نوي | | | | |

۴- قواعد: د سبق نه فعلونه راغونډ کړئ او په کاپو کښې ئې وليکئ

د استاذ/استاذې لارښودنه

ماشومانو سره دې د ټولنې په مختلفو ادارو خبرې اترې وکړي.
په ماشومانو دې د يو اتيانه ترنوي شمېره په هندسو او لفظونو کښې ښهٔ زوته کړي.

NOT FOR SALE

# کمپیوټر

## د زده کړې پایلې



د سبق لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- په یو ټکي یا جمله کښې په درسته توګه د تورو او ټکو ادائیګي وکړے شي
- د خاکې یا تصویر په مرسته ساده جملې ولوستے شي
- نوي نوي ټکي په صحیح تلفظ ولاړ کړے شي
- په چاپېرچل کښې د موجودو څیزونو د فائدو نه خبر شي
- د څېنو جدیدو هنرونو او ایجادونو د نومونو سره اشنا شي

**خاص لفظونه**

کمپیوټر، ایجاد، هدایات، ډېټا، غلطي، معلومات، مانیټر، سکرین، ماؤس، سپیکر

perfect24u.com

کمپیوټر د نوي دور د ټولو نه اهم ایجاد دے.

کمپیوټر د انسان په هر کار کښې ډېره اساني او تېزي پېدا کړې ده. مونږ چې کمپیوټرته کوم هدایات ورکوو د کمپیوټر په ژبه کښې دغې ته ډېټا (DATA) وائي.

کمپیوټر زمونږ په هدایاتو ډېر زر عمل کوي او غلطي هم نهٔ کوي.

د کمپیوټر څو اهمې حصې دا دي:

سي پي یو:

دا د کمپیوټر بنیادي حصه ده چې ورته د کمپیوټر دماغ وئیلے شي.

دا د انسان د ورکړے شوې ډېټا مطابق مونږ له معلومات راکوي.

مانیټر:

په مانیټر مونږ دغه معلومات لکه د ټي وي د سکرین وینو.

NOT FOR SALE

کي بورډ:

د کي بورډ په ذریعه کمپیوټر له هدایات ورکولے یا لیکلے شي کوم چې مونږ ته په مانیټر ښکاري او ماؤس د کي بورډ په ملګرتیا متعلقه ځائې په ګوته کوي۔

سپیکر:

په سپیکر مونږ کمپیوټر کښې محفوظ شوي اوازونه اورو۔

هارډ ډیسک:

هارډ ډیسک په ډیر مقدار کښې د معلوماتو ساتلو صلاحیت لري۔

نن سبا په دنیا کښې کمپیوټرد ژوند په ډیرو کارونو کښې پکارولے شي۔




۱۔ صحیح جواب ته دائره توره کړئ:

۱ مونږ چې کمپیوټر ته کوم هدایات ورکوو دغې ته څهٔ وائي؟

الف الفا ب بیټا ج ډیټا د هدایات

۲ کمپیوټر زمونږ په څهٔ عمل کوي؟

الف خبرو ب نصیحتونو ج هدایاتو د کارونو

۳ سي پي یو ته د کمپیوټر څهٔ وئیلے شي؟

الف زړهٔ ب دماغ ج سترګې د غوږونه

۴ دکمپیوټر په کومه حصه مونږ معلومات لکه د ټي وي د سکرین وینو؟

الف سي پي یو ب کي بورډ ج هارډ ډیسک د مانیټر

NOT FOR SALE

۵ په کومه حصه په کمپیوټر کښې ډېټا لیکلے شي؟

الف کي بورډ   ب سپیکر   ج مانیټر   د سي پي یو

۲. لاندیني لفظونه په خالي ځایونو کښې ولیکئ او جملې پوره کړئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ایجاد | هدایات | بنیادي | اوازونه | کمپیوټر |

۱ کمپیوټر د نوي دور د ټولو نه اهم ــــــ دے.

۲ دکي بورډ په ذریعه کمپیوټر له ـــــــــ ورکولے شي.

۳ سي پي یو د کمپیوټر ــــــ حصه ده.

۴ په سپیکر مونږ کمپیوټر کښې محفوظ شوي ــــ اورو.

۵ نن سبا په ټوله دنیا کښې ــــ پکارولے شي.

۳ ورکړے شویو تصویرونو ته د دغه څیزونو نومونه ولیکئ



۴ د کرښې په ذریعه لفظونو کښې جوړښت پیدا کړئ:

| | |
|---|---|
| هدایات | اواز |
| سي پي یو | ډېټا |
| مانیټر | دماغ |
| کي بورډ | ماؤس |
| سپیکر | ټي وي سکرین |

د استاذ/استاذې لارښودنه

ماشومانو سره دې د کمپیوټر په فائدو خبرې اترې وکړي.



NOT FOR SALE

# وړوکی اختر

## د زده کړې نتيجې



د نظم لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د ساده نظم په اورېدو د هغې نه خوند واخستے شي
- نظم په درست اهنګ ولوستے شي
- د تورو مختلف شکلونه او غړونه وپېژني
- يو شان غړ لرونکي تکي وپېژني
- تر سلو شميره په ټکو کښې په ليکلو زده کړي.

## خاص لفظونه

روژې، مزې، ارام، انعام، خوشحالي، سيالي، خوراکونه، موجونه، اختر، سحر



perfect24u.com

وړوکے اختر راغے
د مينې سحر راغے
مياشت ښکلې د روژې وه
د خوند او د مزې وه



شوه تېره په ارام
اختر ئې شۀ انعام
هر خوا ته خوشحالي دي
يو بل سره سيالي دي

NOT FOR SALE



جامې نوې او ښکلې
هر چا دي اغوستلې
هر مخ دے ښکلے ښکلے
ښائست پرې وريدلے



رنګ رنګ دي خوراکونه
هر زړه وهـَـي موجونه
دا ورځ د ورورولۍ ده
دا ورځ د خوشحالۍ ده

(نورالرحمان سحرؔ)

perfect24u.com

## مشغولتيا

١: د لاندينو سوالونو درست جواب ته دائره تورہ کړئ

١ وړوکے اختر د کومې اسلامي مياشت نه پس راځي؟

الف شوال　ب رمضان　ج محرم　د شعبان

٢ د پخلا څۀ معنىٰ ده؟

الف خفه　ب رضا　ج اختر　د خوشحالي

٣ مسلمانان په کال کښې څو اخترونه کوي۔

الف دوه　ب درې　ج څلور　د يو



NOT FOR SALE

۲: یو شان اواز لرونکي لفظونه ولیکئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ اختر | سحر | ۳ خوراکونه | |
| ۲ ارام | | ۴ ښکلے | |
| ۵ خوشحالی | | | |

۳: د لفظونو خپلو کښې جوړښت راولئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کالم (الف) | ۱ د خوشحالی | ۲ خوراکونه | ۳ ښکلے | ۴ جامې |
| کالم (ب) | ۵ وړوکے | ۶ ورځ | ۷ رنګ رنګ | ۸ اختر |
| کالم (ج) | | | | |

۴: سلو پورې شمېره په هندسو او لفظونو کښې ولیکئ:

| | | |
|---|---|---|
| ۹۱ یو نوي | ۹۲ دوه نوي | ۹۳ درې نوي |
| | | |
| ۹۴ څلور نوي | ۹۵ پینځهٔ نوي | ۹۶ شپږ نوي |
| | | |
| ۹۷ اووهٔ نوي | ۹۸ اتهٔ نوي | ۹۹ نههٔ نوي |
| | | |
| ۱۰۰ سل | | |

perfect24u.com

د استاذ/استاذې لاربنودنه:

ماشومانو سره دې د اختر د ورځې په هلو ځلو خبرې اترې وکړي۔

په ماشومانو دې د یو نوي نه تر سلو شمېره په هندسو او لفظونو کښې ښهٔ زوته کړي۔

NOT FOR SALE

# راځئ چې وخاندو

## د زده کړې شیبې

د دې سبق د لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې

- د دوئو او اړونو په اورېدو پکښې سوچ او تلوسه پېدا شي او نورو ته ئې بیان کړي
- په یو ټکي یا جمله کښې په درسته توګه د تورو او ټکو ادائیګي وکړے شي
- د خپلې خوښې ناخوښې اظهار وکړے شي
- ساده لطیفې، اړونه او دوئې ولوستے شي

## خاص لفظونه

تپوس، مورنۍ، مطلب، ګونګۍ، متیائي، څناور، ماشاءالله ، ان شاء الله ، مریض، شاګرد

## یو ماشوم د بل ماشوم نه تپوس وکړۀ

perfect24u.com

**وړومبے ماشوم:** ستا مورنۍ ژبه څۀ ده؟

**دوېم ماشوم:** هیڅ هم نه

**وړومبے ماشوم:** څۀ مطلب؟

**دوېم ماشوم:** زما مور ګونګۍ ده

**مور بچو ته:** ما چې د سبا د پاره کومه متیایي اېښودې وه هغه چا خوړلې ده ؟

**خلان:** مورې ما خوړلې ده

**مور:** ولې؟

**خلان:** ځکه چې مونږ ته استاد وئیلي وو چې د نن کار سبا ته مه پرېږدئ۔




NOT FOR SALE



**مالک:** څناورو سره مینه کوې؟

**نوکر:** هو جي. سور کړې چرګ سره ډېره مینه لرم

یو ډاکټر به هرې خبرې سره ما شاء الله او ان شاء الله وئیل، یوه ورځ ورله یو مریض راغے او ورته ئې ووې:



**مریض:** ډاکټر صاحب زما په خېټه درد دے

**ډاکټر:** ماشاء الله

**مریض:** زهٔ به مړ شم؟

perfect24u.com

**ډاکټر:** ان شاء الله




**ډاکټر مریض ته:** زهٔ په دې حېران یم چې
ستا زړهٔ دومره تېز ولې درزېږي؟

**مریض:** ډاکټر صاحب ما اوس ستا فیس
بورډ ولوستهٔ.



**استاد:** شاګرد ته په غصه کښې:
ما تاته څو ځله وئیلي دي چې سبق یادوه؟

**شاګرد:** جي څلور ځله

NOT FOR SALE

# رښتونې قيصې

**د زده کړې تتيجې**




د سبق لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- ساده جملې ووئيلے شي
- د ساده پوښتنې جواب وکړے شي
- سوال او جواب په اعتماد وکړے شي
- د ملي اتلانو نومونه او تصويرونه وپېژني
- ساده جملې وليکلے شي

**خاص لفظونه**

بنديان، مشغول، پاڅېده، بجلي، ناوخته، خوبونه، لوے سړے، خوشحاله، دعاګانې، قائداعظم



يوه شپه يو ماشوم په کمره کښې ځان له ناست ؤ۔ د کور نور بنديان په بله کوټه کښې اوده وو۔ ماشوم د سکول په کار کښې مشغول ؤ۔ شپه د نيمې نه اوړېدلې وه چې د مور ئې سترګې وغړېدې۔ څۀ ګوري چې خوا ته کمره کښې باتي بله ده۔ مور ئې پاڅېده چې بجلي مړه کړي۔ هغه چې ورغله نو ماشوم ئې په خپل کار کښې مشغول وليده۔ مور ورته ووې چې بچيه! ډېر ناوخته دے۔ بس ئې کړه۔ اوده شه خو هغۀ جواب ورکړه۔ مورې! که زۀ د شپې خوبونه کوم نو لوے سړے به څنګ جوړېږم، مور ئې په دې جواب ډېره خوشحاله شوه او ډېرې دعاګانې ئې ورته وکړې۔ دغه ماشوم چې لوے شۀ نو د قام د بابا قائداعظم محمد علي جناح په نوم ياد شۀ۔

NOT FOR SALE



## مشغولتیا

**١. د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره توره کړئ:**

1 ماشوم د شپې چرته ناست و؟

الف په سکول کښې  ب په کمره کښې  ج په بېټک کښې

2 ماشوم په څه کښې مشغول و ؟

الف په لوبو کښې  ب په خوب کښې  ج د سکول په کار کښې

3 د ماشوم خبر له څوک راپاڅېدل؟

الف مور  ب پلار  ج خور

perfect24u.com

**٢ خالي ځایونه په مناسبو لفظونو ډک کړئ**

1 مور ورته ووې بچیه ډېر ________ دے. (وختي، ناوخته، بې وخته)

2 خوا ته کمره کښې ______ بله ده. (بجلي، باتي، ډیوه)

3 مور ئې په دې جواب ډېره ______ شوه. (خفه، ناراضه، خوشحاله)

**٣. هر لفظ ته لاندې په کرښه جمع ولیکئ**

| شپه | ماشوم | کار | دعا | سړے |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| | | | | |

**د استاذ/استاذې لارښودنه**

په ماشومانو دې نوې نوې لطیفې واوروي.

NOT FOR SALE

# د انعامونو وېش


## د زده کړې تتیجې

د سبق لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:


- د اعلانونو او هدایاتو په اورېدو د هغې په مطلب پوهه شي
- د خپل مقصد په حواله پوښتنه وکړے شي
- د خپلې خوښې ناخوښې اظهار وکړے شي
- لنډې جملې ولیکلے شي
- واحد جمع وپېژني

**خاص لفظونه:** امتحان، پوزیشن، انعامونه، تلاوت، نظامت، تقریب، مبارکي، مستقبل

د نومبر په میاشت کښې زمونږ وروستي امتحان وشهٔ. نن مونږ ته د هغې نتیجه واوروله شوه. د نتیجې اورولو او پوزیشن اخستونکیو ماشومانو ته د انعامونو ورکولو د پاره یوه لنډه شان دستوره وشوه. دستوره د قرآن پاک د تلاوت نه شروع شوه. تلاوت ودان وکړهٔ. د دستورې نظامت ښاغلي عبدالرب استاذ کولو. د سکول



NOT FOR SALE



perfect24u.com

د مشر استاذ په لاس ماشومانو ته انعامونه ورکړے شول. وړومبے انعام شاندار ته ورکړے شۀ. د دوېم پوزيشن انعام پلوشې ته او د درېم پوزيشن انعام غُنچې ته ورکړے شۀ. د دې نه علاوه وړومبو لسو ماشومانو ته هم انعامونه ورکړے شول. د تقريب په اخر کښې مشر استاذ ټولو ماشومانو ته په ښه نتيجه او انعامونو ګټلو مبارکي ووئيله او خپله خوشحالي ئې څرګنده کړه. په اخر کښې د ماشومانو د روښانه مستقبل د پاره دعا وغوښتے شوه.





NOT FOR SALE

## مشغولتیا

**۱. د لاندینو سوالونو درست جواب ته دائره توره کړئ:**

۱ امتحان په کومه میاشت کښې شوے ؤ؟

الف ستمبر  ب اکتوبر  ج نومبر  د دسمبر

۲ دستوره د څهٔ په خوشحالۍ کښې وه؟

الف د لوبې ګټلو  ب د داخلو  ج د چتیانو  د د نتیجې

۳ وړومبے پوزیشن چا اخستے دے؟

الف ودان  ب شاندار  ج پلوشه  د غنچه

۴ د دستورې نظامت چا کولو؟

الف ساجد استاذ  ب طارق استاذ

ج شاکر استاذ  د عبدالرب استاذ

**۲. لفظونه په خالي ځایونو کښې ولیکئ او جملې پوره کړئ:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| تلاوت | نظامت | انعامونه | روښانه |

۱ د مشر استاذ په لاس ماشومانو ته ______ ورکړے شو۔

۲ د دستورې ______ ښاغلي عبدالرب استاذ کولو۔

۳ د ماشومانو د ______ سباوون د پاره دعا وغوښتې شوه

۴ دستوره د قران مجید د ______ نه شروع شوه۔

perfect24u.com



NOT FOR SALE

**۳- درستې جملې ته ✓ او غلطې ته ☒ نخښه ولګوئ:**

۱ دستوره د قرآن مجید د تلاوت نه شروع شوه.

۲ تلاوت شاندار وکړهٔ.

۳ د دوېم پوزیشن انعام پلوشې ته ورکړے شهٔ.

۴ د مشر استاذ په لاس انعامونه ورکړے شول.

**۴- هر واحد ته لاندې د هغې جمع ولیکئ:**

| واحد: | نتیجه | دستوره | انعام | ماشوم | میاشت |
|---|---|---|---|---|---|
| جمع | | | | | |

**۵- لاندینۍ شمېره په هندسو او لفظونو کښې ولیکئ:**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۰ | سل | ۲۰۰ | دوه سوه | ۳۰۰ | درې سوه |
| | | | | | |
| ۴۰۰ | څلورسوه | ۵۰۰ | پینځهٔ سوه | ۶۰۰ | شپږ سوه |
| | | | | | |
| ۷۰۰ | اووهٔ سوه | ۸۰۰ | اتهٔ سوه | ۹۰۰ | نههٔ سوه |
| | | | | | |
| ۱۰۰۰ | یو زر | | | | |

**د استاذ/استاذې لارښودنه:**

په ماشومانو دې د واحد جمع مشق د مختلفو قاعدو مطابق وکړي.

د سلونه پس د شمېر طریقې دې ماشومانو ته وښائي او دغه سلسله دې تر زرو ورسوي.

NOT FOR SALE

# اړونه

## د زده کړې نتيجې

د سبق لوستو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

- د دونو او اړونو په اورېدو پکښې سوچ او تلوسه پېدا شي او نورو ته ئې بيان کړي
- د خپل مقصد په حواله پوښتنه وکړے شي
- د مخصوصو تورو تلفظ په صحيح توګه وکړے شي
- د خپلې خوښې او ناخوښې اظهار وکړے شي
- سَاده لطيفې، اړونه او دونې ولوستے شي



**خاص لفظونه:** شين، سور، پخکړي، ضرور، ګرځېږم، چلېږم، سيک، ښکلے، شکلونه، خلاص



perfect24u.com

هم شين يمه هم سور يم
پخکړي کښې ضرور يم
چې ډېر مې ځوک خوړل کړي
بيا اوښکې تويول کړي




په دوه پايو ګرځېږم
تېل نهٔ خورم خو چلېږم
نهٔ تېز نهٔ ډېر قلار يم
خو ياد په وفادار يم



NOT FOR SALE



ډېر ښکلې ډېر نازک یم
د باد په شاني سپک یم
رنګ رنګ لرم رنګونه
خوښیږي مي ګلونه



لرمه ډېر شکلونه
هوا کښې خورم پېرونه
چې خلاص شمه له تاره
بیا نیسم خپله لاره

(فیض الوهاب فیض)

perfect24u.com



NOT FOR SALE

# هنرونه

**د زده کړې نتيجې**

د دې سبق وئيلو سره به ماشومان د دې جوګه شي چې:
- زده کړې تکي په صحيح تلفظ ادا کړے شي
- په واحد جمع پوهه شي
- په چاپېرچل کښې د ساه لرونکو او بې ساه څيزونو نومونه واخستے شي
- د ساده جملو واړۀ عبارتونه ولوستے شي
- صحيح او د علت توري وپېژني
- اعراب او حرکات وپېژني

**خاص لفظونه:**

استاذ، مختلف، استعمالوو، پوښتنه، اوسپنې، بېلچې، کودالۍ، پېزار، چمیار، لوښي

perfect24u.com

نن چې علي خان استاذ کلاس ته راغے نو د سلام دعا نه پس ئې ماشومانو ته ووې تاسو وینئ ګورئ چې مونږ مختلف څیزونه استعمالوو . زۀ ستاسو نه د یو یو څیز په باره کښې پوښتنه کوم چې دا چا جوړ کړي دي.



**استاذ:** کامرانه کرسۍ، مېزونه څوک جوړوي؟

**کامران:** جي ترکاڼ ئې جوړوي.

**استاذ:** شانداره د اوسپنې څیزونه لکه بېلچې، کودالۍ څوک جوړوي؟

**شاندار:** جي لوهار ئې جوړوي.



NOT FOR SALE

۳۔ د کالم الف لفظونه د کالم ب لفظونو سره د کرښې په ذریعه یو ځاے کړئ:

| کالم الف | کالم ب |
|---|---|
| درزي | کپړه |
| لوهار | وېښته |
| نائي | خاورین لوښي |
| کولال | ګنډل |
| جولا | اوسپنه |

۴۔ ورکړے شوي لفظونه په خالي ځایونو کښې ولیکئ:

perfect24u.com

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لرګي | ټيکرو | اوسپنې | جامې | څپلی |

1. څمیار ______ جوړوي
2. درزي ______ ګنډي
3. لوهار د ______ څیزونه جوړوي
4. کولال د ______ لوښي جوړوي
5. ترکاڼ د ______ څیزونه جوړوي

د استاذ/استاذې لارښودنه

د ماشومانو په مرسته دې د مختلفو هنرونو فائدې بیان کړي

په ماشومانو دې د هر سلم عدد نه پس شمېره ووائي۔

NOT FOR SALE

# ښکاري او لومبړه

## د زده کړې نتیجې

د دې قیصې د اورېدو نه پس به ماشومان د دې جوګه شي چې:

د ساده جملو په اورېدو د هغې په معنو پوهه شي او مناسب عمل ته پرې تیار شي.

د ماشومانو د قیصو او لطیفو په اورېدو د هغې نه خوندو اخستې شي.

په خپل چاپېر چل کښې د ساه لرونکو او بې ساه څیزونو نومونه اخستې شي.

نوي نوي ټکي په صحیح تلفظ ولا ړولې شي.

په واحد جمع پوهه شي.



## خاص لفظونه

ښکاري، صحرا، تکل، ثرمن، ډوغل، مرداري، غوښې، مصیبت، محسوسېدهٔ، صبر

یو ښکاري په یوه صحرا کښې د ښکار په تکل روان ؤ.

ناڅاپه ئې یوه لومبړه ولیده.

perfect24u.com

ښکاري په دې نیت د لومبړې د نیولو اراده وکړه چې ثرمن به ئې په ښهٔ قیمت خرڅه کړم خو لومبړه غار ته ننوته. هغه لومبړې پسې روان شهٔ. ښکاري د غار په خوا کښې یو ډوغل وکنستهٔ او په وښو ئې پټ کړهٔ. د وښو په خوا کښې ئې یوه مرداره په دې غرض کښېښوده چې لومبړه مردارې پسې راوځي نو ډوغل کښې به پرېوځي. ښکاري ورته پټ کښېناستهٔ. په لومبړه چې د مردارې بوي ولګېدهٔ نو د غار نه ئې سر رابهر کړهٔ.



NOT FOR SALE

د غوښې په بوي ئې زړۀ خوشحاله شۀ. ولې د مصیبت ویره ورته هم محسوسېده. زړۀ کښې ئې ووې، کوم کار چې سود او زیان دواړه لري د هغې نه صبر غوره دے. په دغه خیال واپس په غار کښې بې غمه کښېناسته. دغه دوران کښې یو اوږدے پړانګ راغے چې په مرداره ئې حمله وکړه نو په ډوغل کښې ورپرېوته. ښکاري خیال وکړۀ چې لومبړه ګېره شوه. په منډه راغے، ډوغل ته ئې ورودانګل او د پړانګ پنجو له ورغے.



ښکاري د خپل حرص په وجه د پړانګ خوراک شۀ او لومبړه د صبر په وجه سلامته پاتې شوه

نتیجه: حرص بده بلا ده.




١: لاندیني ټکي په خالي ځایونو کښې ولیکئ او جملې پوره کړئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| پړانګ | صحرا | صبر | غوښې | ډوغل |

١ یو ښکاري په یوه ــــــ کښې روان ؤ.

٢ د غار په خوا کښې ئې یو ــــــ وکنستۀ.

NOT FOR SALE

۳ د ـــــــ په بوي ئې زړهٔ خوشحاله شهٔ.

۴ دغه دوران کښې يو اوړے ـــــــ راغے.

۵ لومبړه د ـــــــ په وجه سلامته پاتې شوه.

## ۲: د واحد نه جمع جوړ کړئ:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| واحد: | لومبړه | مرداره | غوښه | حمله | پنجه |
| جمع: | | | | | |

## ۳: صحيح جوابونه ولټوئ:

۱ ښکاري په صحرا کښې ............. ولیده.

الف ازمرے ب لومبړه ج پړانګ

perfect24u.com

۲ د زيان معنٰی ـــــــ ده-

الف فائده ب سود ج نقصان

۳ کوم کار چې سود او زيان دواړه لري د هغې نه ............. غوره دے.

الف حرص ب صبر ج شکر

۴ ښکاري د پړانګ............. له ورغے.

الف خلې ب مخې ج پنجو

۵ حرص ـــــ بلا ده.

الف وړه ب غټه ج بده



NOT FOR SALE

قواعد: د پښتو صحیح توري په ترتیب سره ولیکئ

۵: د دې ټکیو املا زده کړئ او اعراب پرې ولګوئ:

ښکاري، لومبړه، څرمن، ډوغل، سود، زیان،


پړانګ، حرص، صبر

د استاذ/استاذې لارښودنه:

په ماشومانو دې قیصه واوروي-

ماشومانو ته دې د حرص او لالچ په حقله یوه بله قیصه وکړي

perfect24u.com



NOT FOR SALE

# دعا

لویه خدایه لویه خدایه
نېغه لاره راته ښایه

زمونږ ژوند د خوشحالو کړې
اخرت مو د مزو کړې



علم پوهه مو سپوا کړې
حقیقت راته نما کړې

د انسان مو خدمت ګار کړې
سلامت زمونږ کردار کړې

ستا په مینه مو ماړهٔ کړې
زړهٔ او ذهن مو رانهٔ کړې

لویه خدایه لویه خدایه
مونږ په نېغه لاره بیایه

(پروفېسر اباسین یوسفزے)

**یادګیرنه:**
ماشومان دې دا دعا په یادو یاده کړي او په شریکه دې په اوچت اواز ووایي

NOT FOR SALE

# فرهنګ

| | |
|---|---|
| **ا** | |
| انعام | ښه ورکړه، ښه بدل |
| امان | امن، حفاظت |
| انشاء الله | چې الله وغواړي |
| ایجاد | نوي څیزونه جوړول |
| اعلیٰ | اوچت، ډېر ښه، غوره |
| اُخرین | وروستے |
| اِنتها | اخري حد |
| اولین | وړومبے |
| **ب** | |
| بخت | نصیب، قسمت، تقدیر |
| باتور | باز، بهادر، غېرتي |
| بتۍ | د خښتو یا لوښو تنور |
| بې وفا | بې ننګه، بې پته |
| بندوبست | تابیا |
| بهتر | غوره، ښه |
| باقي | پاتې |
| **پ** | |
| پخکړے | اینګولے، سالن |
| پیرونه | چکرونه، تاوېدل، چورلېدل، څرخېدل |
| پوزیشن | مقام، درجه، مرتبه، حیثیت |
| پیغمبر | خبر راوړونکے، نبي، رسول |
| پور | قرض، بدل |
| **ت** | |
| تکلیف | سخته، درد، نقصان، کړاو |
| تکل | هڅه، کوشش، لټون |
| تیلۍ | ګوتۍ، خلته، لفافه، بوسخکۍ |
| **ټ** | |
| ټیکرے | د خاورود لوښي ټوکړه، کودرے |
| **ج** | |

perfect24u.com

NOT FOR SALE

| | |
|---|---|
| جهان | دنیا |
| **چ** | |
| چاپیرچل | ماحول |
| **څ** | |
| څرګند | ښکاره |
| **خ** | |
| خار | ازغے |
| **د** | |
| دستوره | تقریب، غونډه |
| دام | لومه، کوړکے، جال |
| د سترګو تور | ګران، نیازبین |
| **ډ** | |
| ډوغل | کنده |
| ډب | بند |
| ډېټا | مواد، معلومات |
| **ر** | |
| روښان | رڼ، ځلېدونکے |
| روزي رسان | خوراک رسوونکے |
| رهبر | لار ښودونکے |
| روضه | قبر، زیارت، مزار |
| رحمت للعالمین | د دوارو جهانونو د پاره رحمت<br>د ټولو جهانونو د پاره رحمت |
| راحتونه | خوشحالي |
| رهنما | لارښودونکے |
| **ز** | |
| زیارت | قبر، روضه، مزار |
| زړهٔ پورې | خوښ زړهٔ ته نزدې |
| **س** | |
| سلامته | مکمله/روغه جوړه |
| سیمه | طرف، علاقه |
| سیالي | برابري |
| سانده | ویر، ژړا، فریاد |

perfect24u.com



NOT FOR SALE

| | |
|---|---|
| سلامتیا | روغ والے، امن |
| ساز کړے | جوړ کړے، سم کړے |
| سکرین | پرده، شیشه، چې تصویر پرې ښکاري |
| سلام کلام | خبر په خبر، جوړ تازه کول |

## ش

| | |
|---|---|
| شیرینه | خوږه |
| شعور | عقل، پوهه |
| شاړې | مېرې، صحرا |
| ښېګړه | نېکي، احسان، ښهٔ کول |

## ص

| | |
|---|---|
| صحرا | بېدیا، شاړه، مېره، دشته |
| صلاحیت | طاقت، توان |

## ع

| | |
|---|---|
| عیان | ښکاره |
| عطا | ورکړه |

## غ

| | |
|---|---|
| غوره | د ټولو نه ښهٔ، چوڼ شوے |
| غم خور | خوا خوږے |
| غلبه | د پاسه کېدل، زورورتیا |

## ق

| | |
|---|---|
| قدرت | طاقت |

## ک

| | |
|---|---|
| کلکولېټر | د حساب کوتوال |
| کړاو | تکلیف، سخته |
| کنټېنر | لوئے لوښے |
| کاریګر | هنرمند |

## ګ

| | |
|---|---|
| ګوډ | فصل ته زمکه نرمول، پستول |
| ګېمونه | لوبې |

## ل

| | |
|---|---|
| لارښود | لارښودونکے، مشر |

## م

perfect24u.com

# د مؤلفینو لنډه پېژندګلو

## پروفېسر اباسین یوسفزے:

پروفېسر اباسین یوسفزے په اسلامیه کالج یونیورسټی کښې د پښتو ډیپارټمنټ چېئرمېن دے۔ ښۀ شاعر او ادیب دے۔ د شاعرۍ ئي درې مجموعې غورځنګونه، الوت او مرام چاپ دي۔ د ادب، تعلیم او کلتور په میدانونو کښې ئې ډېر خدمات دي۔ دوي په ګڼ شمېر ایوارډونو نمانځلے شوي دي۔

## فرهاد محمد غالب ترین:

د دائم شاه زوے دے چې په وړومبۍ جنورۍ 1951ء کښې په خوښکي بالا نوښار کښې پېدا شوے دے ابتدائي تعلیم ئې د خپل کلي نه کړے دے۔ بي اے او پښتو انرز دے۔ د درس او تدریس سره علاقه لري، شاعر، ادیب، ماهر تعلیم او مترجم دے انګلش سپیکنګ کورسونه دوه جلدونه (پښتو ترجمه) د مشکوٰة شریف څلور جلدونه (پښتو ترجمه) اسلامي فقه (پښتو ترجمه) او "نور نامه" ئې مرتب چاپ کتابونه دي۔

## فیض الوهاب فیض:

په ګورنمنټ پرائمري سکول محب بانډه مردان کښې مشر اُستاذ دے د خیبرپښتونخوا ټېکسټ بک بورډ په کتابونو لیکلو او نظرثانۍ کولو کښې ئې په زړۀ پورې کار کړے دے۔ ښۀ شاعر، ادیب، محقق، نقاد دے او د تعلیم و تدریس سره ترون لري۔ په ژبه، ادب، تحقیق او تنقید ئې ګڼ شمېر مقالې مختلفو مجلو کښې چاپ شوي دي۔ د "اظهارونه" په نامه ئې یوه شعري مجموعه هم چاپ شوې ده او د تنقیدی مقالو مجموعه ئې د ادب او تنقید په نوم چاپ ده۔

## نورالرحمان سحر

نور الرحمان چې د غني الرحمان زوے د کوټ دولت زي امازو ګړۍ مردان اوسېدونکے دے۔ د درس او تدریس د پېشې سره تعلق لري۔ اعلیٰ تعلیم یافته، ښۀ شاعر، ادیب، افسانه نګار او محقق دے۔ د درسي کتابونو لیکلو، ترتیب کولو او نصاب جوړولو ښه تجربه لري۔ د شاعرۍ درې کتابونه "د سحر شور"، "ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړۀ" او "ستا یوه یوه خبره" او د افسانو کتاب "ډولۍ" ئې چاپ دي۔ د ایف ایم رېډیو پښتونخوا ښۀ کوربه دے۔ په ګورنمنټ پرائمري سکول نمبر 2 کوټ دولت زو کښې استاذ دے۔

NOT FOR SALE

| | |
|---|---|
| منډې ترړې | کوشش |
| مخلوق | د خدائے پاک پېداوښت |
| مولا | مالک |
| مسېجونه | پېغامونه، خبرونه |
| مختلف | بېل بېل، ادل بدل |
| ماشاء الله | د الله ورکړه ده |
| مستقبل | راتلونکے وخت |
| مصري | خواږهٔ ، چيني ، ګوړه |
| مرمت | زوړ خيز جوړول، سمول |
| مننه | شکريه |

| | |
|---|---|
| ن | |
| ننداره | تماشه |
| نظامت | ترتيب ورکول،کوربه توب کول |
| نازولے | نيازبين |
| نازل | رالېږلے |
| نعمتونه | د الله تعالی ورکړه |
| نمونه | مثال |
| ه | |
| هدايت | لارښودنه |
| همه | ټول |
| هدايات | حکمونه |

perfect24u.com

